**مطبوعاتي اعلامیه**

**د اردن رژیم د خپلو خلکو عزت ته پام نه کوي او هغه یهودي ته یې له هېواده د وتلو اجازه ورکړه، چې د دې خاورې دوه بچیان یې وژلي وو!**

(ژباړه)



د اردن رژیم یو ځل بیا د یهودي اشغالگرو او د اسراء او معراج د ځمکې له غاصبینو سره د خپلې نږدې اړیکو پخلی وکړ. پرته له دې چې د یهودي دولت هغه جرمونه په پام کې ونیسي، چې د اردني او فلسطیني وگړو، همدارنگه د سپېڅلي الاقصی پر وړاندې یې ترسره کړي، په دوامداره توگه د خپلو بې شرمو اړیکو د دوام او پیاوړتیا لپاره هڅه کوي.

رسنیو د راپور له مخې د یهودي دولت لومړي وزیر دا مجرم چې د اردون په پلازمېنه کې یې د دغه هېواد دوه بچیان په بې رحمۍ وژلي او د یهودي دولت غیر اسلامي سفارت چې د اردن په پلازمېنه کې دی، بې عزته کړي وو. د (وادي عربه) د هغه بې شرمه او ننگین تړون چې د اردن د رژیم او یهودي دولت تر منځ لاسلیک شوی، پایله یې دا شوه چې اسلامي امت یې په داسې حال کې چې بې خبره و، دښمن ته سپارلی.

د اردن رژیم یو ځل بیا هڅه وکړه چې د اردن خلکو ته د شرم او سپکاوي جامه ور په تن کړي، پرته له دې چې د اردني قاضي رائد زعیتر، د ابن الکرک ابن عشیره العمرو  او د پولیس ابن عشیرة الجراح وینه په پام کې ونیسي. همدا راز د ابن الدوایمة وابن الحمارنة له وینو څخه په تېرېدو سره یې یهودي مجرمانو ته اجازه وکړه چې له هېواد

شخه ووځي. د اردن د کورنیو چارو وزیر غالب الزعبي پر دغه شرم د پردې اچولو لپاره د اردن د استازوو مجلس ته وویل چې ابن الدوایمه لومړی پر یهودي مجرم د برید هڅه کړې وه، په داسې حال کې دا مجرم یهودي ولسمشر نتنیاهو د اتل په توګه وستایه. دا د اردن د خلکو پر مخ څپېړه او د هغوی سپکاوی دی. دا د اردن د هغه رژیم له لوري څپېړه ده چې د اردون د خلکو د ساتنې او د هغوی د عزت د خوندیتوب مسؤولیت پر غاړه لري.

الله اکبر، اې خلکو! که دغه وژل شوی کس، سرتېری وي او پر اشغالګرو یا تېري کوونکو یې برید کړی وي، نو دوی شاید ویلي وی، چې ده له پوځي قوانینو څخه سرغړونه کړې وه، لکه څرنګه یې چې په احمد الدقامسة او ډلګی مشر ابو تایه دا تور پورې کړ. که وژل شوی د عامو خلکو له ډلې څخه وی، نو دوی به ویلي وو چې لومړی برید ده کړی و!! دا رژیم زموږ لپاره په دغه هېواد کې د بل څه ډول عدالت، سپکاوي او شرم په تمه دی؛په داسې حال کې چې موږ د خالد بن ولید، ابوعبیده، شرحبیل ابن حسنه، صلاح الدین، ظاهر بیبرس او قطز لمسیان یو!؟ دا رژیم زموږ لپاره بل څه ډول بې عدالتي، سپکاوی او شرم غواړي، په داسې حال کې چې موږ د جګړې د اتل اکرمه زامن او لمسیانو یو!؟ یهودي دولت ته د یهودي مجرم سپارل او هغه زموږ له منګولو خلاصلول، الاقصی ته د یهودي دولت د ننوتو له لارو څخه د برېښنایي دروازو د لرې کولو تر معاملې ډېر سپکوونکی دی. دا د هېواد د وګړو د وینې له حق څخه تېرېدل دي، چې په بدل کې یې د الاقصی د اشغال دوام ته لار هواروي. دا څه ډول سپکاوی او شرم دی؟

**اې د اردن مسلمانانو!**

موږ تاسې ته یو ځل بیا د هغه یوازني اسلامي نظام (خلافت) یادونه کوو چې هغه به ستاسې عزت، وینه، پت خوندي او ستاسو د هېواد د سرچینو ساتنه وکړي؛ هغه دولت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې زېری درکړی، چې د نبوت پر تګلاره به وي. موږ بلنه درکوو چې د دغه دولت لپاره کار وکړئ، دا ستاسو د ازادۍ، بریا او ویاړ لپاره یوازنۍ لاره ده.

**﴿وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ...﴾** (التوبه: ۱۰۵)

*(اې پیغمبره صلی الله علیه وسلم!) دوی ته ووایه، چې تاسو عمل کوئ؛ الله سبحانه وتعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم او مومنان ستاسې کړه وړهویني.*

**۲۰۱۷م، د جولای ۲۵مه**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذولقعدې ۲ مه**

**شمېره: ۳۴/۲۱**

**د حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**